## مطبوعاتي اعلاميه

### د کشمير خلک د اسلامي امت يوه نه بېلېدونکې برخه ده، کشمير د هند داخلي موضوع نه ده

### د خلافت د بيا تاسيس لپاره زموږ له هلو ځلو سره يو ځای شئ چې کشمير د مشرک هند له ښکېلاک خلاص کړو

حزب التحرير/ ولايه بنګله دېش نن جمعه چې د ۲۰۱۹/۰۸/۲۳ نېټې سره سمون لري د جمعې تر جماعت وروسته د ډاکې او چيټا ګنګ د ښارونو په بېلا بېلو جوماتونو کې د حسينې رژيم پر وړاندې چې ادعا کوي چې ګواکې کشمير د هند داخلي موضوع ده، لاريونونو ته راووتل. رژيم هڅه کوي د کشمير د مسلمانانو لپاره چې کوم لاريونونه ترسره کېږي خلک ترې راوګرځوي. د لاريون کوونکو ويناوال د کشمير د مسلمانانو بېچارګي او مصيبت بيانوي. خاين مسلمان سياستوال، چې د هند د مشرک دولت او د غربي ښکېلاک اجيران دي د هند په دغو کړنو باندې خپل غوږونه کاڼه اچولي دي. هند غواړي يوه امپرياليستي طرحه پلې کړي او ټول کشمير تر خپل ښکېلاک لاندې راولي او په دې نيمه وچه کې غواړي بل فلسطين جوړ کړي. د کشمير د ازادۍ په اړه د هند د اساسي قانون د ۳۷۰ مادې په لغوه کولو سره قصاب مودي کشمير د مرګ پر يوه دره اړولی دی. د هند حکومت د لويو نظامي ځواکونو د ځای پر ځای کولو، پر تګ راتګ باندې د بنديزونو لګولو، د ټيلفون او انټرنيټ د لين په غوڅولو سره په ښکېلاک شوي کشمير کې مسلمانان تر سختو شکنجو لاندې دي.

ظالم هندي ځواکونه د ډله ييزو نيولو لپاره کور په کور يرغل کوي، د خلکو په راټولېدلو باندې ډزې کوي او ټپي خلک د درملنې لپاره د نيولو له وېرې بيخي روغتونونو ته نه شي تللای. بل پلو، موږ وينو چې د حسينې ټګ رژيم د دې پر ځای چې زموږ نظامي ځواکونه د هند له يرغل څخه د کشمير د خلاصون په موخه د مسلمانانو د ملاتړ لپاره هلته واستوي، په بنګله دېش کې د هند د بهرنيو چارو وزير په مېلمه پاللو سره د کشمير په مسلمانانو باندې ملنډې وهي. د حسينې رژيم مسلمانان په دې خبرې سره چې کشمير د هند «داخلي موضوع ده» تېر باسي، څو خپل امپرياليسټ مشرک کافر واکمنان خوشاله کړي.

سربېره پر دې، دوی د بنګله دېش خلک وېرولي چې د هند پر وړاندې د کشمير د مسلمانانو لپاره خپله غوسه څرګنده نه کړي او لارو کوڅو ته له راوتلو ډډه وکړي. دغه ټګ مار رژيم په ډېرې سپين سترګۍ سره د الله تعالی له امر سرغړونه کوي: (...وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ...) «...که هغوی د دين په اړه له تاسو مرسته وغواړي، نو د هغوی مرسته کول پر تاسو فرض دي...» [الانفال ۸:۷۲].

د لاريون کوونکو ويناوالو همدا راز ويلي: اې مسلمانانو! د کشمير خلک د اسلامي امت يوه نه بېلېدونکې برخه ده، کشمير مازې د هند داخلي موضوع نه ده. رسول صل الله عليه وسلم فرمايلي،

«مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى»

«د مومنانو کيسه په غم، درد، زړه سوي او خواخوږۍ کې د يو بل لپاره لکه د يو بدن په څېر ده. کله چې کوم غړی په درد شي، ټول بدن بې نارام او بې خوبه وي.» [صحيح المسلم]. د کشمير، فلسطين، ميانمار او د نړۍ له هر ګوټ څخه د مسلمانانو درد د ټول امت درد دی. د ايمان له مخې دا زموږ مسوليت دی چې په ټوله نړۍ کې د کشميري مسلمانانو تر څنګ د نورو مظلومو مسلمانانو ستونزو ته د حل لار ومومو.

د کشمير دا ډول برخليک په حقيقت کې د امت د ربښتيني او پاکې مشرۍ(خلافت) د نشتوالي له امله دی. کشمير تل د هند تر ښکېلاک لاندې و او اوس د ۳۷۰ مادې د فسخه کولو له امله بايد بې دفاع پاتې نه شي، په داسې حال کې چې د دې پرځېدل هغه ورځ پيل شول چې امپرياليسټ دښمنانو زموږ د واکمنانو په مرسته د ۱۹۲۴ هجري قمري کال د مارچ په ۳مه خلافت نسکور کړ، موږ يې له ۵۰ په ډېرو ملي دولتونو ووېشلو او موږ يې دې ته اړ کړو، چې د دوی اجيران د واکمنانو په توګه ومنو او کفري بشري نظام ته غاړه کېږدو. موږ د دښمن پر وړاندې ناتوان او بې ډاله شوو. وروسته دوی زموږ ځمکې لکه وحشي ځناور چې ښکار کوي غصب کړې، د دوی تيري او يرغل په نړۍ کې د کشمير په شمول ټولې اسلامي خاورې لاندې کړې.

ويناوالو همدا راز وويل: اې مسلمانانو! ملګري ملتونه او OCI هېڅ شی نه، يوازې امپرياليستي ابزار دي. دوی نه شي کولای زموږ ستونزې هوارې کړي. يوازې ژر راتلونکی راشده خلافت کولای شي کشمير او ټولو هغو خاورو ته چې هلته مسلمانان تر ظلم لاندې دي خپل نظامي ځواکونه واستوي. ثوبان روايت کړی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«عِصَابَتَانِ مِنْ أُمَّتِي أَحْرَزَهُمَا اللَّهُ مِنْ النَّارِ عِصَابَةٌ تَغْزُو الْهِنْدَ وَعِصَابَةٌ تَكُونُ مَعَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ عَلَيْهِمَا السَّلَام»

«الله تعالی زما د امت دوې ډلې د دوزخ له اور څخه ژغورلې دي: يوه ډله چې هند ونيسي او بله ډله چې له عيسی ابن مريم سره وي.» [احمد او النسا]

په پای کې ويناوالو پر خلکو غږ وکړ چې د حزب التحرير غوښتنې ته چې له تاسو څخه غواړي چې د خلافت په تاسيس کې مرسته وکړئ، ځو کشمير له مشرک هند څخه ازادی شي هو وواياست. موږ له دغه اجير او ډران رژيم څخه څه تمه کولای شو چې په خپلو خاورو کې پر مسلمانانو ظلم کوي او له خپلو امپرياليستو واکمنانو سره اوږه په اوږه کار کوي چې د مشرک هند سيمه ييز واک ټينګ کړي؟ اوس يې ښه وخت دی چې د حسينې رژيم چې په اصل کې د مشرک هند يو مزدور رژيم دی له منځه يوسو او د مسلمانانو ډال (پياوړی خلافت) بېرته راوګرځوو؛ هغه خلافت چې کولای شي د کشمير، فلسطين او راخين په شمول په نړۍ کې ټول مظلوم مسلمانان په واقعي توګه ازاد کړي.

رسول صل الله عليه وسلم فرمايلي:

**«وَإِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ»[صحيح المسلم].**

***ژباړه: «اما [خليفه] هغه ډال دی چې تر شا يې جګړه کېږي او پر هغه باندې ځان ساتل کېږي.***

**په ولايه بنګله دېش کې د حزب التحرير مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ٣٤/١٤٤٠**

**١٤٤٠ د ذوالحجې ٢٢مه**

**٢٠١٩ د اګېست ٢٣مه**